# او ويلي يې دي چې: «خير پکې نشته، بلکې د بخيل نه پرې (يو څه) راوځي

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم له نذر څخه منع فرمايلې او ويلي يې دي چې: «خير پکې نشته، بلکې د بخيل نه پرې (يو څه) راوځي».
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له نذر څخه منع فرمايلې ده؛ چې انسان پر ځان داسې يو څه واجب کړي چې شريعت پرې نه دی ملزم کړی، او فرمايلي يې دي چې نذر هېڅ شی نه مخکې کوي او نه يې وروسته کوي، بلکې يوازې د هغه بخيل انسان څخه پرې يو څه راوځي چې يوازې ځان پر واجباتو ملزم بولي، او نذر هېڅ داسې کوم کار نه شي کولی چې نذر کوونکي ته مقدر شوی نه وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2960